# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## عمران خان نړيوال بانک او د پيسو نړيوال صندوق ته په تسليمېدو، پر پاکستان باندې د امريکا اقتصادي استعمار لا پياوړی کوي

(ژباړه)

د پاکستان دولتي بانک د رييس په توګه د پيسو نړيوال صندوق د پخواني چارواکي او په مالي چارو کې د لومړي وزير د سلاکار په توګه د نړيوال بانک د پخواني چارواکي د ګومارنې په اړه يوازې تاوده بحثونه بسنه نه کوي، چې يوازې غربي اقتصاد وهلي کسان رد شي. د دې لپاره چې پاکستان له اوسني اقتصادي تباهۍ څخه ځان وباسي، له نړيوال بانک او پيسو نړيوال صندوق سره بايد هره معامله پرېږدي. د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک د زيان ستري سرچينې دي او د امريکا فوځ داسې انګېري چې مالي استعماري مؤسسې لکه IMF، نړيوال بانک او OECD د جګړې پر مهال مالي او غير معمولي وسلې دي او د عمومي جګړې لويه برخه پر مخ بيايي. (د امريکايي فوځ «د وسلو د استعمال ميدان» (FM) ۳-۰۵,۱۳۰، د ځانګړو عملياتي ځواکونو غير معمولي وسله واله نښته» د ۲۰۰۸م کال سپټمبر)

سره له دې اوسنی رژيم د پيسو له نړيوال صندوق  او نړيوال بانک سره معاملې ته زړه ښه کوي، په داسې حال کې چې له پايلو يې ښه خبر دي چې د اقتصادي ويجاړتيا لامل ګرځي. په يوه مرکه کې چې برېټانوي ګارډين ورځپاڼې خپره کړې؛ د ۲۰۱۱م کال د سپټمبر په ۱۸مه عمران خان اخطار ورکړی «يو پر مرستو ولاړ هيواد؟ له دې نه مرګ غوره دی. دا حالت تاسو د خپلې وړتيا رسېدو ته نه پرېږدي، کټ مټ لکه هغه کار چې استعمار يې کوي. مرسته يو سپکاوی دی. هغه هېوادونه چې زه يې پېژنم او د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک پروګرامونه لري، بېوزله کسان يې نور هم بېوزله او شتمن يې نور هم شتمن کړل.»

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له لسيزو را هيسې ا د پرله پسې رژيمونو په پايله کې ستاسو اقتصاد مخ پر ځوړند روان دی او له IMF (د پيسو نړيوال صندوق) او نړيوال بانک سره تړونونو مو لاستونزې ډېرې کړې دي. په حقيقت کې پر PTI د  PML-N او PPP نيوکه داسې ده لکه يو تور لوښی چې بل تور لوښي ته «تور» وايي؛ ځکه دوی ټول فکر کوي چې له نړيوال بانک او پسو نړيوال صندوق سره معامله د دوی اړتيا ده. په داسې حال کې چې زموږ سپېڅلی دين په کلکه له استعماري موسيسو سره تړون ردوي؛ هغه که نړيوال بانک دی يا د پيسو نړيوال صندوق.

استعماري وسايل کفارو ته دا اجازه ورکوي، چې زموږ پر ټولو چارو واکمن شي؛ په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

﴿وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾

[سوره النسأ: ۱۴۱]

*ژباړه: الله سبحانه وتعالی کفارو ته اجازه نه ورکوي چې پر مومنانو برلاسي شي.*

استعماري وسايل کولای شي د دوی د معاملو په پايله کې موږ ته ډېر زيان واړوي؛ په داسې حال کې چې رسول صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ»

(مواتا امام مالک، ابن ماجه)

***ژباړه:*** *نه بايد چاته زيان ورسوئ او نه بايد څوک زيان درته ورسوي.*

استعماري ابزار يا وسيلې هغه چارواکي دي چې اسلام نه پلی کوي او الله سبحانه و تعالی يې په اړه موږ ته امر کړی چې پر دوی باور ونه کړو او رد يې کړو. الله سبحاته و تعالی فرمايلي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾

[سوره النسأ:٦٠]

***ژباړه:*** *اې پيغمبره صلی الله عليه وسلم! ايا تا هغه خلک نه دي ليدلي چې وايي: موږ پر هغه کتاب چې تا راوړی او پر هغو کتابونو چې له تا وړاندې نازل شوي، ايمان لرو؟ خو دوی خپلې ستونزې د حل لپاره شيطان ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې دوی ته له شيطان څخه د منکربدو امر شوی دی. شيطان غواړي دوی وغولوي او له سمې لارې څخه يې لرې کړي.*

نو ایا همدا اوس یې ښه وخت نه دی چې د رښتیني بدلون (خلافت) لپاره چې زموږ حق دی، کار وکړو؟

**حزب التحریر ولایه - پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق، کال د رمضان ۲مه**

**۲۰۱۹م کال، د مې ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۵۴/۱۴۴۰**